# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**24جدی _سال 1401**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

**فهرست مطالب**

عنوان صفحه

برای بیش از 2 هزار خانواده در بادغیس مدد رسانی صورت گرفت --- 1

هرات کې له دوه سو زیاتو کورني، سره نغدي او دغیر خوارکي توکو مرستې وشو --- 2

فرانسه: د مونپلیې اداري محکمې د یوه افغان کډوال د اخراج حکم تایید کړی --- 2

برېتانیا: افغان کورنیو له ښوونځیه د خپلو ماشومانو د لرې پاتې کېدو په خاطر د حکومت پر وړاندې شکایت کړی --- 4

برېتانیا: لومړی وزیر ژمنه کوي چې د انګلیس کانال له لارې ورتلونکي کډوال به «سمدلاسه» اخراج کړي --- 5

هالند د کورنیو پر ادغام شخړیز محدودیتونه بېرته وځنډول --- 7

یونان: په ۲۰۲۲ کې ۱۳۰۰ قاچاق وړونکي نیول شوي دي --- 9

محاکمه امدادگران رضاکار به اتهام قاچاق انسان در یونان --- 10

نجات 12 مهاجر از آب‌های دریای اژه --- 12

# متن کامل اخبار

## برای بیش از 2 هزار خانواده در بادغیس مدد رسانی صورت گرفت

ویب سایت وزارت



**برای 2 هزارو 249 خانواده بیجا شده در ولایت بادغیس که به محلات شان برگشته اند، کمک غیر خوراکی دفتر یونسف از تاریخ 14 الی 20 جدی در هماهنگی با آمریت امورمهاجرین آنولایت توزیع شده است.**

**خانواده های یادشده قبلاً به کمپ های بیجا شده ها در مرکز ولایت بیجا شده بودند وبا برگشت به محلات اصلی شان در ولسوالیهای قادس، مقر ودره بوم، کمک یادشده که شامل بسته های صحی ، آشپزخانه ، البسه زمستانی و 2 تخته ترپال بود به ایشان توزیع شد.**

## هرات کې له دوه سو زیاتو کورنيو ته، سره نغدي او دغیر خوارکي توکو مرستې وشو

دوزارت ویب سایت



د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لورې د هرات ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ د مرغومي به ( ۲۱) مه ( ۲۷۷) کورنیو سره نغدي او د غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.

یادو کورنیو هرې کورنۍ ته ( (۲۰۰) امریکایي ډالره نغدې، روغتیایي کڅوړې او د پخلنځي وسایل ووېشل شول.

## فرانسه: د مونپلیې اداري محکمې د یوه افغان کډوال د اخراج حکم تایید کړی

مهاجرنیوز



نیانګل م. هغه افغان کډوال دی چې د خاورې د پرېښودو سند یا ترک خاک ورکړل شوی دی. دا په داسې حال کې چې د فرانسې د کورنیو چارو وزارت ټینګار کوي چې افغانستان ته د رد شویو افغان کډوالو د استولو لړۍ درول شوې ده .

د فرانسې بزیې ښار کې د سیماد سازمان غړی دانیل مارتن وایي چې نیانګل «حیران» پاتې دی چې ولې قومندانۍ ورته د خاورې د پرېښودو سند یا ترک خاک ورکړی دی.

د دغه ۲۷ کلن افغان کډوال دوسیه د فرانسې د کډوالو او بې تابعیته وګړو ادارې یا اوفپرا او د پناه غوښتنې ملي محکمې له خوا رد شوې ده. ورپسې چارواکو د ۲۰۲۲ د اکتوبر میاشتې په ۱۳مه نوموړي ته د خاورې د پرېښودو سند ورکړ. د مونپلیې اداري محکمې بیا د جنورۍ په ۶مه د نیانګل د اخراج حکم تایید کړ.

نیانګل چې اوس د پناه غوښتونکو په یو مرکز یا کادا کې اوسېږي وېره لري چې ښایي بې سرپناه پاته شي او یا افغانستان ته واستول شي چېرې چې هغه د طالبانو له ګواښ سره مخ دی. دا په داسې حال کې چې د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن تېر کال په تکرار سره وویل چې اخراجېدونکي کډوال افغانستان ته نه استول کېږي. نیانګل ښایي فرانسه کې خپل حقونه له لاسه ورکړي او له سختو شرایطو سره مخامخ شي. کډوال نیوز هڅه وکړه چې په دې اړه د هرو قومندانۍ نظر ترلاسه کړي، خو بریالۍ نه شو.

د سیماد غړی وایي چې د نیانګل دوسیې ته له ډېر ځنډ سره رسېدنه شوه. هغه وایي چې «نیانګل د ۲۰۲۰ په سپتمبر میاشت کې فرانسې ته رسېدلی و، خو پوره یو کال وروسته یې له اوفپرا سره مرکه درلوده. که په لومړیو شپږو میاشتو کې ورته د مصاحبې لپاره وخت ورکړل شوی وای، نو نن به وضعیت داسې نه وای» ځکه هغه وخت د نیانګل اصلي ولایت ننګرهار د ناامنو او خطرناکو ولایتونو په توګه پېژندل کېده.

»بې مانا» پرېکړه

سیماد سازمان کې د حقوقي چارو مسول پل شیرون بیا د قومندانۍ پرېکړه «بې مانا» بولي ځکه د عملي کېدو امکان یې نشته او «غیرانساني» ده.

هغه وایي چې د خاورې د پرېښودو سند یوازې د کډوالو حالت خرابوي او پر هغوی ناوړه اغېزې لرلی شي.

د خاورې د پرېښودو هغه سند چې نیانګل م. ته ورکړل شوی دی یو کال وروسته خپل قانوني اعتبار له لاسه ورکوي، خو د نیانګل په اداري دوسیه کې پاتې کېږي. پل شیرون وایي که چېرې نیانګل د اوسېدو کارت د ترلاسه کولو غوښتنه وکړي، دغه سند به ورته ستونزه جوړولی شي.



Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov

نیانګل او مدافع وکیل یې غواړي چې له اداري محکمې څخه د استیناف غوښتنه وکړي. دغه ځوان افغان اړ دی چې د خپلو لګښتونو د پوره کولو په موخه «تور کار» ته مخه کړي. بزیې ښار کې د سیماد څانګه او دانیل مارتن هڅه کوي چې «له قانوني لارو څخه» دغه سند لغوه کړي.

## برېتانیا: افغان کورنیو له ښوونځیه د خپلو ماشومانو د لرې پاتې کېدو په خاطر د حکومت پر وړاندې شکایت کړی

مهاجرنیوز




د رسنیو د راپورونو له مخې یو شمېر افغان کورنیو له ښوونځي څخه د خپلو ماشومانو د لرې پاتې کېدو په خاطر د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت پر وړاندې محکمې ته شکایت ثبت کړی دی. دوی وایي وروسته له هغه چې چارواکو له لندن څخه د برېتانیا یوې بلې سیمې ته واستول، ماشومان یې نه توانېدل چې ښوونځي ته لاړ شي .

د بریټانیا د کورنیو چارو وزارت د تېر کال په اګست میاشت کې پرېکړه وکړه چې یو شمېر افغاني کورنۍ له لندن څخه د بریټانیا بلې سیمې ته واستوي چې له امله یې د یادو کورنیو ماشومان و نه توانېدل ثانوي درسونو کې ګډون وکړي. اوس دغه کورنۍ وایي چې د حکومت پر وړاندې یې محکمې ته شکایت ثبت کړی دی.

د بي بي سي د راپور په حواله، د بریټانیا حکومت د پرېکړې له مخې ۴ کورنۍ د لندن له یوه هوټل څخه چې کډوالو ته ځانګړې شوې و د بریټانیا شمالي سیمې ته ولېږدول شوې. د دغو کورنیو له قوله ویل شوي دي چې کله چې دوی نوې سیمې ته ورسېدلي هلته په ښوونځیو کې خالي ځای نه و موجود. نو ځکه د هغوی ماشومان و نه توانېدل چې خپل ثانوي درسونه تعقیب کړي.

بیا ولولئ :<u>کډوال په بریټانیا کې: «د راتلونکې په اړه فکر هم نه شو کولی»</u>

ټاکل شوې ده چې د دغو کورنیو مدافع وکیلان راتلونکې اونۍ په محکمه کې حاضر شي او د کورنیو چارو وزارت د پرېکړې پر ضد خپل دلایل وړاندې کړي. دوی به استدلال وکړي چې د کورنیو چارو وزارت دې ته پاملرنه نه ده کړې چې نورو سیمو ته د کورنیو استول د ماشومانو پر زدکړو ناوړه اغېز لرلی شي.

»هوټل د زندان په شان دی«

تر دې دمخه د یادو کورنیو ماشومانو د لندن آرک والورت اکاډمۍ کې زده کړې کولې او د ثانوي ازموینو لپاره یې تیارۍ نیوه.

بیا ولولئ :<u>بریټانیا له شوراګانو غوښتي چې ۱۰۰۰۰ افغان کډوالو ته سرپناه برابره کړي</u>

پنځه لس کلنه مرضیه یوه له دغو نجونو ده چې اوس د بریټانیا په شمال کې اوسېږي .هغه چې په انلاین توګه خپل درسونه تعقیبوي وایي: «دوی وویل چې موږ به ښوونځي کې شاملوي. خو خپله ژمنه یې ماته کړه.» دغه کډواله چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته له خپلې کورنۍ سره یو ځای بریټانیا ته انتقال شوې زیاتوي: «هوټل د زندان په شان دی. د رخصتیو لپاره ښه ځای دی، خو نه د شاوخوا دوو کالو لپاره«.

په ورته مهال د افغان کورنیو وکیل دانیل رورک ویلي دي چې هیله لري چې موکلان به یې محکمه وګټي. نوموړي هیله ښودلې چې دغو کورنیو ته یو ځل بیا د لندن په شمالي سیمه کې سرپناه برابره شي.

## بریټانیا: لومړی وزیر ژمنه کوي چې د انګلیس کانال له لارې ورتلونکي کډوال به «سمدلاسه» اخراج کړي

مهاجرنیوز




**د برېټانیا لومړي وزیر ریشي سونک پرون شپه ژمنه وکړه چې د انګلیس کانال له لارې ورتلونکي کډوال به «په سمدلاسه توګه» له برېټانیا څخه اخراج کړي. نوموړی د هغو «نوو قوانینو» د تصویب غوښتونکی شوی دی چې د کډوالۍ پر وړاندې سخت تدابیر پکې نیول شوي دي.**

**د برېټانیا لومړي وزیر ریشي سونک پرون شپه (د ۲۰۲۳ د جنورۍ ۱۱) وویل چې د کډوالۍ په اړه د نوو قوانینو د تصویب غوښتوونکی دی. د یادو قوانینو له مخې هغه کډوال چې د انګلیس کانال له لارې یې په وړو کښتیو کې ځانونه برېټانیا ته رسولي دي، له دغه هېواد څخه ایستل کېږي. نوموړي زیاته کړه چې نوي قوانین «په ډېر صراحت سره وایي چې که تاسو په ناقانونه توګه راغلي یاستئ، په برېټانیا کې د پاتې کېدو حق نه لرئ او له دغه هېواد څخه شړل کېږئ».**

**د <u>دېلي مېل</u> ورځپاڼې په حواله، د دغو لایحو له مخې چې تر اوسه تصویب شوې نه دي هغه کډوال چې د فرانسې په څېر له امنو هېوادونو څخه برېټانیا ته تللي دي دوی به په دغه هېواد کې د پناه غوښتلو اجازه و نه لري.**

**بیا ولولئ :<u>۲۰۲۲ کال کې بریتانیا ته په وړو کښتیو کې له ۴۵ زرو ډېر کډوال اوښتي</u>**

بل پلو بي بي سي وايي چې ریشي سونک پر هغه هوکړه لیک هم ټینګار کړی چې له فرانسي سره یې لاسلیک کړی دی او هیله لري چې د دې موافقې په پایله کې به د کډوالو شمېر کې ۴۰ سلنه کموالی رامنځته شي.

برېتانیا او البانیا تېره دېسمبر میاشت هوکړه وکړه چې په کوچنیو کښتیو کې ورتلونکي البانوي وګړي به بېرته خپل هېواد ته واستول شي. هغه وخت د برېتانیا لومړي وزیر په لندن کې پارلمان ته د وینا پر وخت له «یوې نوې طریقې» څخه خبره کړې وه. نوموړي ویلي وو چې دغه نوې طریقه دا ده د البانیا پلازمېنې تېرانا په هوایي ډګر به بریتانوي سرحدساتونکي چاروکي هم په دنده وګومارل شي.

بیا ولولئ :بریتانیې له البانیې سره د مهاجرت نوی تړون لاسلیک کړ

د سونک په وینا بریتانوي چارواکي به «د سازماندهي شوي جرایمو» په مخنیوي کې مرسته وکړي او هغه کسان چې په ناقانونه توګه بریتانیا ته ورځي د هغوی مخه به ونیسي. هغه دا هم ویلي وو چې د ۲۰۲۲ په وروستیو میاشتو کې چې کوم کسان د سمندر له لارې برېتانیا ته راغلي، ورڅخه دریمه برخه یې البانیان دي. د هغه په وینا د نوي تړون له مخې به دغه کسان «سمدلاسه» بېرته البانیا ته لیږل کیږي.

د برېتانیا حکومت غوښتل چې د ۲۰۲۲ په جون میاشت کې یو شمېر کډوال روندا ته واستوي، خو دغه پرواز په وروستیو شېبو کې د اروپا د بشري حقونو محکمې د پرېکړې له مخې لغو شو.

د یادولو ده چې د لندن عالي محکمې د دېسمبر په ۱۹مه پرېکړه وکړه چې »روندا ته د پناه غوښتونکو د لیږلو« پلان قانوني دی .خو د محکمې په حکم کې راغلي وو چې چارواکي اړ دي چې د پناه غوښتونکو دوسیې په جلا جلا توګه وارزوي او ورپسې بیا پرېکړه وکړي.

## هالند د کورنیو پر ادغام شخړیز محدودیتونه بېرته وځنډول

مهاجرنیوز

د هالنډ حکومت په محکمو کې له پر له پسي ماتو وروسته مهاجرو سره د هغوی د کورنیو پر ادغام لګول شوي محدودیتونه دمګړی وځنډول.



د هالنډ دولتي سکرتر اېریک فان دېر بورګ د چهارشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ ۱۱نېټه) په ډنهاګ کې و پارلمان ته وویل چې د مهاجرو سره د هغوی د کورنیو پر ادغام لګول شوي محدودیتونه ځنډول شوي دي. د هغه په وینا تر هغو چې د هالنډ تر ټولو عالي محکمې آخري او حتمي فیصله نه وي کړې، یاد محدودیتونه به ځنډول شوي پاته وي .د هغه په وینا په دې ترڅ کې به هغه انسانان چې د قبول شوي مهاجر د کورنۍ غړي وي، هغوی به و هالنډ ته بېله قید او بست څخه سفر وکولای شي.

د هالنډ تر ټولو عالي اداري محکمه د پنجشنبې په ورځ پر یاده موضوع صلاح مشورې کوي. خو دا چې کله به پر دغه موضوع فیصله صادره شي، لا نه ده څرګنده. دغې محکمې د تېر عیسوي کال په دسمبر میاشته کې په یوه عاجله ناسته کې مؤقتي فیصله کړې وه چې د قبول شوو پناه غوښتونکو د کورنۍ غړو ته باید بېله محدودیتونو و هالنډ ته د سفر کولو اجازه ورکوله شي. په دغه فیصله کې راغلي ول چې د کورنیو د الحاق په وړاندې محدودیتونه د ملي او نړیوالو قوانینو نقض دی. دا څلورمه محکمه وه چې د یادو شخړیزو محدودیتونو پر ضد یې فیصله وکړه.

د مني راهیسې په هالنډ کې د قبول شوو مهاجرو کورنۍ مجبورې دي چې د کورني الحاق لپاره ۱۵ میاشتې انتظار وکړي. صرف هغه وخت یې په مخکې محدودیت نشته چې هغوی خپل اپارتمان یا کور ولري. د هالنډ د معدل او ښي اړخي ائتلافي حکومت صدراعظم مارک روته د یادو محدودیتونو په استدلال کې د مهاجرو لپاره د سرپناوو په موندنه کې ستونزې یادې کړې وې .

د هالنډ حکومت غواړي چې ښارګوټي په دې مکلف کړي چې لا زیات اپارتمانونه چمتو کړي. حکومت یې په بدل کې ژمنه کړې وه چې د راتلونکو مهاجرو به شمېر کې به کمښت راولي. خو یو شمېر مهاجرو د حکومت د یادو نوو اصولو پر ضد محکمې ته مراجعه کړې وه.

## یونان: په ۲۰۲۲ کې ۱۳۰۰ قاچاق وړونکي نیول شوي دي

مهاجرنیوز




یوناني چارواکي وايي چې د دغه هېواد امنیتي ځواکونو تېر کال د اوروس سمندر په اوږدو کې څه باندې ۱۳۰۰ قاچاق وړونکي نیولي دي. زیاته شوې چې په ۲۰۲۲ کې تر ۲۵۶ زرو ډېرو کډوالو د اوروس سمندر له لارې له ترکیې څخه د یونان خاورې ته د ننوتو هڅه کړې ده .

د یونان د ولسي وګړو د ساتنې وزیر تاکیس تیودوریکاکوس وايي چې د دغه هېواد امنیتي ځواکونو د تېر میلادي کال په جریان کې څه باندې ۱۳۰۰ قاچاق وړونکي نیولي دي. هغه چې د تېرې شنبې په ورځ یې له اسکای راډیو سره خبرې کولې ویلي دي چې په ۲۰۲۲ کې څه باندې ۲۵۶ زرو مهاجرو د اوروس سمندر څخه د اوښتو هڅه کړې ده.

نوموړي تېر کال ویلي وو چې یوازې د ۲۰۲۲ د اګست میاشتې په جریان کې لږترلږه ۴۰ زره کډوالو هڅه کړې چې له دغې لارې یونان ته ځانونه ورسوي. زیاته شوې وه چې د یونان امنیتي ځواکونه توانېدلي چې د ۲۰۲۲ له پیل څخه تر اګست میاشتې پورې د ۱۵۰ زره غیرقانوني کډوالو مخه ونیسي.

بیا ولولئ :<u>یونان وايي په روان کال د ۱۵۰ زره کډوالو مخه نیولې ده</u>

د ښاغلي تیودوریکاکوس په وینا حکومت پلان لري چې د اوروس سمندر په اوږدو کې شته دېوال نور هم اوږد کړي. هغه ویلي دي چې ډېر ژر به له ترکیې سره پر پوله د ۳۵ کیلومترو په اوږدوالي د خنډونو جوړېدو کار پیل شي.

د یونان حکومت د ۲۰۲۲ په اګست کې پرېکړه وکړه چې له ترکیې سره پر پوله دېوال ۸۰ کیلومتره نور هم اوږد کړي او د کډوالو د مخنیوي لپاره له نویو تجهیزاتو کار واخلي.

داسې ویل کېږي چې د دغو خنډونو د جوړېدو کار تر پای ته رسېدو پورې به له ترکیې سره پوله وتړل شي. زیاته شوې چې پر پوله به د ګزمه کوونکو شمېر زیات کړل شي او له نویو کښتیو او الوتکو څخه به هم کار واخیستل شي.

بیا ولولئ :د یونان د کډوالو وزیر: «کډوال ضرورت نه لري چې یونان ته راشي ځکه ترکیه یو امن هیواد دی»

بل پلو بیا د کډوالۍ نړیوالي اداره وایي چې په ۲۰۲۲ کې تر ۱۸۰۰۰ ډېر کډوال په ناقانونه طریقه یونان ته ننوتلي دي چې دغه شمېرې ۲۰۲۱ په پرتله دوه چنده زیاتوالی ښیي .

## محاکمه امدادگران رضاکار به اتهام قاچاق انسان در یونان

دویچه وله



محاکمه گروهی از رضاکاران در پیوند به قاچاق انسان در یونان برگزار شد. رقم این امدادگران رضاکار به ۲۴ نفر می‌رسد و در عملیات نجات مهاجران در یک جزیره شرقی یونان سهم داشتند

روند محاکمه یک گروه از مددرسانان رضاکار در یونان به روز سه شنبه (۱۰ جنوری ۲۰۲۳ (برنامه ریزی شده بود. این گروه در پیوند به قاچاق انسان متهم شده اند. این امدادگران و افراد رضاکار همه اتهامات را رد می‌کنند و می گویند، به غیر از نجات جان افرادی که زندگی شان در خطر است، کار دیگری نکرده اند.

سارا ماردینی، فعال سرشناس حقوق بشر از سوریه که خودش نیز پناهجو و شناگر رقابتی است، از جمله این امدادگران است. یسرا ماردینی، خواهر او بخشی از تیم شنای پناهجویان در بازی های المپیک طی سال های ۲۰۱۶ در ریو دو ژانیرو و سال ۲۰۲۱ در توکیو بود. قصه زندگی این دو خواهر سوژه یک فلم سینمایی در نت فلیکس نیز شده بود.

مرتبط :آتن: "قهرمان خاموش" به قاچاق انسان متهم گردیده است

ماردینی که در جلسه روز سه شنبه محکمه حضور نداشت و شان بایندر، یکی دیگر از اعضای این گروه پس از بازداشت شان در سال ۲۰۱۸ بیش از سه ماه را در لیسبوس در زندان گذراندند. از جمله اتهامات آن ها جاسوسی، جعل اسناد و استفاده غیرقانونی از فرکانس های رادیویی بود.

قرار بود که به این دوسیه در سال ۲۰۲۱ رسیدگی شود، اما به خاطر مسائل اداری به تعویق انداخته شد. ماردینی و بایندر به جرم تخلف از قانون تحت تعقیب هستند، اما تا به حال چنین اتهاماتی علیه آن ها ارائه نشده است.

بایندر در حالی که پیش از آغاز جلسه بیرون از محکمه بود، گفت: «این حقوق بشر است که این جا محاکمه می‌شود. این مشکل بنیادین است«.

او گفت، امیدوار است که این مورد در جلسه محکمه همانگونه که برنامه ریزی شده بود، ادامه پیدا کند.

بایندر افزود: «این که ما باید (به این خاطر) به محکمه برویم، بسیار ناراحت کننده است، چون کاری که انجام دادیم، قانونی بود.» او افزود، این دوسیه باید به سرانجام برسد، قاضی باید تکلیف این دوسیه را مشخص کند. زیرا در غیر این صورت سایه ای از شک و تردید هرکس را که قصد جستجو و نجات )مهاجران را) دارد، تعقیب می‌کند«.

گروه های بین المللی حامی حقوق بشر به صورت گسترده از تعقیب متهمان انتقاد کردند.

سازمان عفو بین المللی برگزاری جلسه محکمه علیه امدادگران را «مضحک «خواند و از نهادهای دولتی یونان خواست که این اتهامات را لغو کنند.

**نیلس مویژنیکس، مدیر سازمان عفو بین الملل در اروپا در بیانیه ای که پیش از برگزاری جلسه محکمه نشر شد، گفت: «سارا و شان کاری انجام دادند که هرکدام از ما در موقعیت آن ها باید انجام می دادیم. کمک به اشخاصی که در یکی از مرگبارترین مسیرهای اروپا در خطر غرق شدن هستند و کمک به آن ها در سواحل جرم نیست«.**

**او افزود: «این محکمه نشان می‌دهد که نهادهای یونانی برای جلوگیری از کمک های بشری و دلسرد کردن مهاجران و پناهجویان [...] دست به هر کاری می‌زنند. ما شاهد این وضعیت در یک سلسله از کشورهای اروپایی هستیم«.**

**مرتبط :در سال گذشته ۱۳۰۰ نفر به ظن قاچاق انسان در یونان بازداشت شده اند**

**یونان که در سال ۲۰۱۵ و در اوج بحران مهاجرت شاهد آمدن حدود یک میلیون مهاجر و آواره ای بود از ترکیه به این کشور آمدند، همواره سعی می‌کند که مهاجرت را مهار کند. حکومت یونان به این منظور در امتداد مرز زمینی اش با ترکیه یک حصار مرزی را ایجاد کرده و در حاشیه جزایرش گزمه های نیروی دریایی را نیز افزایش داده است.**

**مقام های رسمی یونان می‌گویند که سیاست مهاجرت شان سختگیرانه اما عادلانه است. آن ها با وجود افزایش شواهد و مدارک در کشور، ادعای اخراج دسته جمعی پناهجویانی را که به خاک یونان می‌رسند و حق ارائه درخواست پناهندگی را دارند، رد می‌کنند. از این پروسه به نام «پوش بک» (عقب راندن اجباری) یاد می‌شود.**

## نجات 12 مهاجر از آب‌های دریای اژه

رادیوصدای ترکیه

**12مهاجر غیرقانونی که توسط عناصر یونانی به داخل آب‌های سرزمینی ترکیه رانده شده بودند در منطقه آیواجیک در چاناک قلعه از دریا نجات داده شدندمهاجران در داخل قایق نجاتی در داخل دریا در نزدیکی آیواجیک توسط فرماندهی گارد ساحلی دریای اژه شمالی مشاهده شدند.**



**تیم های اعزامی به منطقه 12 مهاجر غیرقانونی را که در قایق نجات توسط عناصر یونانی به داخل آب‌های سرزمینی ترکیه رانده شده بودند، نجات دادند.**

**اتباع خارجی پس از خروج از آب و بعد از انجام اقدامات قانونی به مرکز بازگردانی اتباع خارجی آیواجیک منتقل شدند.**